مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ولي ناروغ ۲۰۲۱/۰۲/۰۸

# کابل تـــه

داسـي وخـت بــه را روان وي پــه کــابل
چــي تپــوس بــه کــړي نـخـرې لکه بلبل

هــر سهار بـه لاس پـه نـام پاڅي له خـوبـه
لمـر بــه ســوړ وي را روان لــکـه بسمل

پــه خپل کـور کي به بې کوره لاس تـر زني
غليـــمان بـــه درتـــه خـانـــدي لـکه ګل

د خــوشحال ديـوان بـه دوړو لاندې بار وي
غـــلامــان بـــه غــوړوي چـپه کــاکـل

کليـــسا بــــه لـــکه نـــاوی وی ولاړه
خـړ جـومـات بـه وی پـه سـرو وينو کاګل

پـه خطـبه کي بـه ئي بولي د خدای سيوری
پـه بني لاس بــه کـړي له کينې خوا ليکل

هــره خـوا بــه آئيـنه غونـــدې ځلـــيږي
تــه بــه ځـان تــه پکــښي ګوري لـکه بل

ولی ناروغ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ